Panadol

An effective relief from sins!



د ګناهونو درملنه

د تولو گناهونو، غمونو، دردونو، سوچونو، روحي او اروايي ناارامیو په زړه پوري درمنله!
هر هغه چاته چې په ګناهونو کې ډوب وي.
هر هغه چاته چې خمکه له پراخې سره پرې راتنګه شوې وي!
هغه چاته چې د اولاد په تمه وي، خو لا تر اوسه يې په برخه شوي نه وي.
او هغه چاته چې ګلونه د ناروغیو له درملنې څخه ستړی شوی وي.
هر هغه چاته چې روزي يې پرې راتنګه شوې وي.

د استغفار د ګټو په اړه څو لنډې کیسې

Panadol
An effective relief from sins!

ریښتیني او مؤثره درملنه!

د ټولو ګناهونو، غمونو، دردونو، سوچونو، روحي او ارواييي نا ارامیو په زړه پورې درمنله!

هر هغه چاته چې د ګناهونو درملنه غواړي.

هر هغه چاته چې په ګناهونو کې ډوب وي.

هر هغه چاته چې د ګناهونو له امله په دردونو او کړاونو کې اخته وی.

هر هغه چاته چې د مشکلاتو او مصیبتونو له امله ځوریږي.

هر هغه چاته چې ځمکه له پراخۍ سره پرې راتنګه شوې وي!

او هغه چاته چې تر خپلو ارواييي فشارونو لاندې شوی وي!!! (د زړه دنيا يې پرې راتنګه شوې وي!)

هر هغه چاته چې د ریښتیني نیکمرغۍ په لټه کې وي، خو لا يې ترلاسه کړې نه وي.

هر هغه چاته چې روزي يې پرې راتنګه شوې وي.

هغه چاته چې د اولاد په تمه وي، خو لا تر اوسه يې په برخه شوې نه وي. او هغه چاته چې کلونه د ناروغيو له درملنې څخه ستړى شوى وي....

له دې ټولو څخه د خلاصون لاره يوازې د ګناهونو له درملنې سره ده.

له ګناهونو څخه د خلاصون لارې

استغفار او بخښنه

الله تعالى فرمايي: ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا . يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا . وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا﴾ [سوره نوح: ۱۰، ۱۲]

ما ورته وويل، چې له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ، يقينا، هغه بخښونکې ذات دى، پرلپسې بارانونه به پر تاسې وورويي، له تاسې سره به د اولادونو او بې شميره مالونو مرسته وکړي، او باغونه او نهرونه به درکړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «مَنْ لَزِمَ الاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ».

څوک چې استغفر الله ډېر څلې وويلې، له ټولو غمونو، دردونو، سوچونو او له ټولو تنګسياو به خلاصون ومومي، او الله تعالى به له داسې لارې ورته روزي ورکړي، چې هېڅ ګومان به پرې هم ونه کړي. [رواه أحمد بسند صحيح ابوداود باب الاستغفار ج اول ص٥٦٠]

ريښتوني او مؤثره درملنه

د بخښنې غوښتلو هغه کلمات چې له رسول الله ﷺ څخه رانقل دي:

١. أَسْتَغْفِرُ ٱللَّهَ

٢. ٱللَّهُمَّ اغْفِرْلِيْ

٣. رب اغفر لي و تب عليّ إنك أنت التواب الرحيم. [رواه أبوداود]

٤. أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِى لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْه. [ابوداود باب

الاستغفار ج أول ص ٥٦٠]

٥. سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ.

[رواه مسلم، باب فضل سبحان الله وبحمده ص ٥٠ ج٢]

٦. يدې ټولوکې تر ټولو غوره سيد الأستغفار دی:

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. [رواه البخاري باب فضل الاستغفار، ج٢ ص٢٣٢٣]

پورتني د استغفار او بخښني غوښتلو ټول هغه کلمات او الفاظ دي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په صحيحو احاديثو کې نقل شوي دي. نور کلمات هم شته، خو د حديثو د متابعت له امله دا تر ټولو غوره دي.

هغه وختونه چې استغفار غوښتل پکې مستحب دي:

١. له فرضي عباداتو وروسته:

الله تعالی فرمايي: ﴿ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [سوره البقرة: ١٩٩]

بيا راښکته شئ څرنګه چې خلك (د حج په ورځ له عرفات څخه) راښکته کيږي او له الله تعالی څخه بخښنه وغواړئ، يقينا الله تعالی بخښونکی او مهربانه ذات دی.

٢. په سهار وخت کې استغفار ويل:

الله تعالی فرمايي:

﴿ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ﴾ [سوره آل عمران: ١٧]

«مؤمنان صبر کوونکي، ريښتيني، قناعت کوونکي، د الله تعالی په لاره کې خپل مالونه خرڅ کوونکي او په سهار وخت کې بخښنه غوښتونکي دي».

٣. د مجلسونو په پای کې بخښنه غوښتل:

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله ﷺ فرمايي: مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ. ځوک چې په کوم مجلس کې ډېرې خبرې وکړي او له مجلس څخه تر پاڅېدو وړاندې يې دا کلمات وويل: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ نو د هغه مجلس ګناهونه به يې وبخښل شي.

[رواه الترمذي حديث صحيح و صححه الألباني]

۴. مړو ته بخښنه غوښتل:

کله به چې رسول الله ﷺ د مړي له ښخولو وزګار شو، نو د هغه پر قبر به ودرېد او وبه يې فرمايل: «اسْتَغْفِرُوا لأَخِيكُمْ وَسَلُوا لَهُ التَّثْبِيتَ

فَإِنَّهُ الآنَ يُسْأَلُ». خپل ورور ته بخښنه وغواړئ او هغه ته ثابت قدمي وغواړئ، ځکه اوس له هغه څخه پوښتنې کيږي. [رواه أَبُو دَاوُد باب الاستغفار عند القبر للميت ص ۲۰۹ و صححه الالباني]

د استغفار ګټې او خوندورې پايلې

۱. استغفار ويل د الله تعالی د امر پر ځای کول دي.
۲. جنت ته د ننوتو سبب دی.
۳. د ګناهونو د بخښنې غوره لاره ده.
۴. د رزق د لارو خلاصون دی.
۵. له مړينې وروسته درجې پورته کوي.
۶. د الله تعالی قهر او عذاب بندوي.
۷. الله تعالی په ډالۍ کې نيکمرغه ماشوم ورکوي.
۸. د زړونو زنګ لرې کوي او پاکوالی وربخښي.
۹. له ناروغيو څخه په صحت درکوي او له ژونده په خوند اخلې. او داسې نور ډير انعامات به هم درکړي.

د استغفار په اړه د سلف صالحينو ويناوې

عايشه صديقه ﵂ وايي: د هغه چا لپاره خوشحالي ده، چې په خپله عملنامه کې ډېر استغفار ومومي.

ابو موسی اشعري ﵁ وايي: زموږ لپاره له عذاب د خلاصون دوه سببه و، چې یو یې اوس هم راپاتې دي، یو په موږ کې د نبي ﷺ شتون، بل استغفر الله،که چېرې دا هم لاړ، نو موږ به تباه شو.

لقمان حکیم رحمه الله خپل زوی ته وویل: ای زویه! الله تعالی د دعا قبولو لپاره ځانګړي وختونه لري، نو هر وخت ډېر استغفار وایه.

قتاده رحمه الله وايي: قران تاسې ته ستاسې ناروغي او درملنه دواړه ښودلي دي، ګناهونه ستاسې ناروغي ده، او استغفار ستاسې درملنه ده.

حسن بصري رحمه الله

بـــه ويـــل:

له الله تعالى څخه بخښنه ډېره غوړاږئ

تــــــر دې چې په خپلو کورونو،

لارو، کـــــوڅو، بازارونـــــــــو

او هـــر مجلس کې يې غواړئ،

ځـــکه تاسې نه پـــــــوهيږئ،

چې د الله تعالی لخوا کله بخښنه

درته کيږي.

د استغفار د ګټو په اړه څو لنډې کیسې

دغه کیسه د کویت له إذاعة القران الکریم څخه رانقل شوې دي:

اوله کیسه:

د ام یوسف په نامه یوه میرمن وه چې تر پنځلسو کلو پورې یې اولاد نه کېده، په دې موده کې د کویټ پر ټولو ډاکټرانو د علاج لپاره وګرځېده، تر دې چې اکثرو اروپايي هېوادونو ته یې هم سفرونه وکړل خو هېڅ ګټه یې ورته ونه کړه، نو یوه ورځ د یوه عالم دیني درس ته کښيناسته، چې هغه د استغفار په اړه خبرې کولې، ام یوسف وايي: له کومې ورځې چې مې د استغفار ګټې اورېدلې وې، نو عمل مې پرې شروع کړی وو، شپږ میاشتې تېرې نه وې چې حامله شوم او زما یوسف زوی پیدا شو، چې هغه اوس شپږ کلن دی. الحمد لله

دويمه کيسه:

يوه مېرمن وايي: زه ديرش کلنه وم، چې خاوند مې وفات شو او له هغه څخه پنځه نجونې او هلکان راپاتې شول، دنيا را باندې توره تياره شوه، د خفګان له امله مې له سترګو اوښکې راغلې او ډېر مې وژړل، غمونو او سوچونو د سيلاب په څېر په خپلو څپوکې واخيستم، تر دې چې سترګې مې ورغلې او ويده شوم، ځکه يو لور ته د ماشومانو د روزلو او نفقې غم وو، او له بل لوري د غربت او فقر شپې ورځې پيل شوې، په کور کې مې ګټې وټې لپاره هم څوک نه لرل، کوچني ماشومان راپاتې شول او له خاوند څخه مې ډېرې لږې پيسې او څه پخوانۍ ځمکه راپاتې وه، چې پر هغې مو ګوزاره کوله، د مرګ لپاره مو شپې ورځې سبا کولې، چې يوه ورځ مې د يو عالم په وينا کې د استغفار ګټې واورېدې، له هماغې ورځې مې خپله هم استغفار ويل پيل کړل او اولادونو ته مې هم د

ویلو لاربښوونه وکړه، قسم په الله تعالی چې څو میاشتې تېرې نه وې چې هغه پخوانۍ ځمکه مو د حکومت لخوا رسمي شوه، هغه مو په لکونو روپو خرڅه کړه، او ژوند مو د نیکمرغۍ په لور روان شو، هلکان مې مدرسو او مکتبونو کې شامل کړل، یوه زوی مې قران کریم حفظ کړ، او په نورو هلکانو کې په لومړۍ درجه بریالې شو او زموږ پر کور د رحمتونو او برکتونو باران راشروع شو، الله تعالی نیکمرغه، خوشحاله، ارام او هوسا ژوند راپه برخه کړ، الحمد لله ټول اولادونه مې نیک عمله را لوی شول، او له غمونو، دردونو او سوچونو څخه خلاص شو.

دریمه کیسه:

یو کس خپله کیسه کوي چې زه یو څل بندي شوم، او له یو کال زیات راباندې بند وخوت، د نبي علیه السلام هغه وینا مې رایاده کړه، چې فرمایي: «مَنْ لَزِمَ الِاسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ

مَخْرَجًا، وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا، وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ» [سنن ابو داوود حديث نمبر ۱۵۱۸]

نو ما پر ځان استغفار ویل لازم کړل، او هره ورځ به مې په زرګونو ځلې استغفرالله ویل، له دوو میاشتو وروسته، د زندان مشر راوغوښتلم او راته یې وویل: ستا د بند موده پوره شوې او تاته معافي راغلې، له زندان څخه له وتلو څه موده وروسته مې ملګرى راغى، او راته یې وویل: زه خبر شوى یم چې له زندان نه راخلاص شوى یې او د ژوند ډېر مشکل پړاوونه پرتا راغلي، دغه پیسې دړواخله او خپل مشکلات پرې حل کړه، ما چې پیسې وشمیرلې، نو له پنځوسو زرو څخه زیاتې وې، ډیر خوشحاله شوم، او د ژوند ټول ضرورتونه مې پرې پوره کړل، څه موده وروسته یې بیا ورو غوښتم او بیایې هماغومره پیسې راکړې، دا ټولې مهربانۍ زما د هغه استغفار د ویلو له برکته وې. الحمد لله.

د الله تعالى وعده او ژمنه

له ابو سعيد خدرى رضي الله عنه څخه روايت دى، چې نبي ﷺ فرمايي: إِنَّ الشَّيْطَانَ قَالَ: وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ، فَقَالَ الرَّبُّ تبَارَكَ وَتَعَالَى: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُونِي.

شيطان الله تعالى ته وويل: اى ربه! زما دې ستا په عزت قسم وي، تر څو چې ستا بندګان ژوندي وي زه به يې بې لارې کوم، فحاشي، بې ديني، ګمراهي، حرامو او نارواوو ته به يې رابولم، الله رب العزت ورته وفرمايل: زما دې هم په خپل عزت او لويۍ قسم وي، چې زه به يې هم تر هغه بخښم، چې تر څو چې دوئ استغفار وايي. [رواه الحاكم فى مستدركه باب التوبة المجلد الثالث ص ٢٩٠ هذا حديث صحيح الإسناد]

له الله تعالى څخه پرته څوک دى چې داسې غوره زيرى ورکړي؟؟!! او له همدې يوه الله تعالى څخه ډېر مهربانه او رحيم

ذات پر ګناهګار امت باندې څوک دی، چې پخپل رحم او فضل يې وبخښي؟؟!!

ای زما بندګانو...!!!

له ابو ذر غفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: چې الله تعالی وفرمايل:

ای زما بندګانو! ما پر ځان ظلم حرام کړی دی. او ستاسې ترمنځ مې هم حرام ګرځولی، نو يو پر بل ظلم مه کوئ.

ای زما بندګانو! تاسې ټول بې لاری واست، پرته له هغه چا څخه چې ما ورته هدايت کړی دی، نو له ما څخه هدايت وغواړئ، زه به تاسې ته هدايت وکړم.

ای زما بندګانو! تاسې ټول وږي واست، ما تاسې ته رزق درکړ، نو له ما څخه د رزق غوښتنه وکړئ.

ای زما بندګانو! تاسې ټول بربنډ وئ، ما جامې درکړې، نو له ما څخه جامې وغواړئ، زه به يې درکړم.

ای زما بندګانو! تاسې د شپې او ورځې ګناهونه کوئ او زه ستاسې ګناهونه در بخښم، نو له ما څخه بخښنه وغواړئ او له ګناهونو توبه وباسئ.

ای زما بندګانو! تاسې نه ماته زيان رسولای شئ او نه کومه ګټه، ای زما بندګانو! که تاسې ټول انسانان او پېريان، له اوله تر اخره متقيان، نيکان او پرهېزګاران شئ! زما په الوهيت (خدايي) کې هېڅ زياتوالی نشئ راوستولای، **ای زما بندګانو!** که چېرې تاسې ټول انسانان او پېريان له اوله تر اخره فاسقان فاجران او بې دينان شئ، زما په حکومت، نظام او الوهيت کې کوم بدلون نشی راوستلای.

اى زما بندګانو! که چېرې ټول انسانان او پېريان، له اوله تر آخره ودرېږى او له ما څخه هر څه وغواړئ او د هر چا له غوښتنې سره سم هغه ته ورکړم، نو زما په خزانو کې به هېڅ کمی رانشي، مګر لکه د ستنې تېره څوکه چې په سمندر کې ډوبه کړئ.

اى زما بندګانو! دا ستاسې اعمال دي، چې ستاسې لپاره يې حسابوم، او بيا هر چاته د هغه پوره برخه ورکوم، چا چې نيکي او خوشحالي ومونده، هغه دې شکر وباسي، او چا چې ګناه، شرمندګي او رسوايي ومونده، نو هغه دې ځان ملامت کړي. [رواه مسلم].

سيد الاستغفار:

له شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ

وفرمايل: د سيد الأستغفار دعا دا ده:

«اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ قَالَ وَمَنْ قَالَهَا مِنْ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنْ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ».

بيايې وفرمايل: چا چې په پوره يقين سره د ورځې دا دعا وويله، او له ماښامه وړاندې مړ شو، هغه له جنتيانو څخه دی، او چا چې په يقين سره د شپې وويله او په همدې شپه مړ شي، هغه له جنتيانو څخه دی. [رواه البخاري]

نو ای مسلمانانو!

تاسو ولیدل چې دا هـر څـه لـه مبـارکو آیتونـو او نبـوي احادیثو څخه ثابت دي، باید موږ ټول یې د خپـل ژونـد برخه وګرځوو، او ټول یې له برکتونو برخمن شو.

نو ای د الله بنده ګانو!

د دې حیرانوونکو فائدو تر لیدلو وروسته اوس هم استغفار نه وایاست؟؟!!

د هر ډول ګناهونو، غمونو، روحي کړاوونو او خفګانونو د علاج مؤثره درملنه.

تطبیق او ډیزاین: دارالصدق

ناشـــــــر:



Panadol
An effective relief from sins!

سلسلهٔ مسؤلیت های مجاهد:۳

Panadol

An effective relief from sins!

د ګناهونو درملنه

د هر ډول ګناهونو، غمونو، روحي کړاوونو او خفګانونو د علاج مؤثره درملنه.

مکتبة دار الصدق
Daar-ul-Sedq

د استغفار د ګټي او خونډوري پايلې